AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی ۲۰۲۲ / ۰۱ / ۰۳

# د اګست د ۱۵ مې کودتا څنګه پېښه شوه!

کودتاوې، د یوې ډلې د پوځي لارې، د ټولټاکنو او د ولس له پراخ ګډون پرته، د حکومتونو او نظامونو بدلون که یوخوا نامشروع او د ولس د رایو او ارادې سره ښکاره دښمني ده؛ بلخوا که څه هم په ظاهر کې اني او فوري پېښېږي، خو پېښېدو ته يې لاملونه او شرایط تر مخکې برابرېږي.
کودتاوې لکه بې وریځه اسمان کې چې باران نه کېږي، پېښېدو ته يې باید تر مخکې لاملونه یو په یو برابر شوي وي. د اګست د ۱۵ مې کودتا هم که پېښېدا يې اني وه، خو شرایط ورته مخکې تر مخکې برابر شوي ول!
د اګست د ۱۵ مې کودتا د نورو کودتاوو په توپیر، لومړی د مرکزي واک په اطراف او ولایتونو کې پیل شوه او لږ وروسته په پلازمینه کابل کې د انتخابي حکومت او نظام په وړاندې پېښه شوه.
په دې کودتا کې د مرکز واک لومړی په ولایتونو کې ورژول او ختم شو او وروسته په کابل کې مرکزي واک د الټیماتوم په بڼه پرېښودو ته اړویستل شو.
د کودتا په رامنځته کېدو کې په کوردننه پخوانی جهادي مافیا، د طالبانو منځ کې شرګډو کړیو او له دواړو څخه په بهر کې ټاکلو حکومتونو او کړیو ملاتړ کړی دی!
جهادي مافیا چې مشري يې د پخوانیو جهادي تنظیمونو اکثره مشرانو پر غاړه درلوده، په حکومت کې دننه د پنځم ستون پټوګه نقش درلود. دا مافیا یوخوا د حکومت برخه وه او بلخوا حکومت يې لکه د چینجیو پشان له دننه خوړ، پیاوړتیا او د ټولنې په وړاندې يې خپلو مسوولیتونو پلیټوب ته نه پرېښود. جهادي مافیا، د حکومت مخالف پوځي اپوزیسیون یعنې طالبانو سره هم د مرکزي حکومت په وړاندې راشه درشه درلوده. په ماسکو، دوحا، ترکیه، بیجینګ، اسلام اباد، تهران او نورو ځایونو کې يې ورسره ګډې غونډې جوړولې؛ طالبانو ته يې حیثیت ورکاوه، هغوی يې وپرسول او د کابل په وړاندې يې ګډې توطیې په لار اچولې.
طالبان هم د اسلام اباد او بلخوا د خلیلزاد په ملګرتیا په واشنګټن کې د واکمنو په لاس، افغان مرکزي حکومت کې د هیوادپالو په وړاندې پوځي دوامداري جګړې ته وهڅول شول. د پوځي اپوزیسیون پټوګه طالبان او په نیمه پوځي اپوزیسیون حکومت کې دننه جهادي مافیا؛ د اسلام اباد او امریکا په ملاتړ د اګست د ۱۵ مې کودتا ته مخکې تر مخکې شرایط برابرکړل.
د کودتا لپاره د امریکا او طالبانو ترمنځ د دوحا تړون چې د افغان حکومت له ګډون پرته د تړلو دروازو ترشا لاسلیک شو، لار نوره هم هواره کړه. څه د پاسه ۶۰۰۰ طالب بندیان چې یو شمېر يې خطرناک بلل شوي، پر افغان حکومت د امریکا د زیات فشار په پایله کې خوشې شول. دغه بندیانو په لوېلاس د طالبانو لیکې پیاوړې کړې او دوی ته يې په جګړه کې د بریا قوي ذهنیت ورکړ.
امریکا یوخوا جهادي مافیا په کابل کې دننه تغذیه کوله او ژوندی ساتله او بلخوا يې د اسلام اباد په ملتیا د طالبانو پوځي اپوزیسیون پیاوړی کاوه. همدارنګه امریکا د جهادي مافیا او طالبانو اړیکې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هم نړېدې کولې او پاللې چې د کودتا په مهال د مرکزي حکومت په نسکورېدا کې همهال رول ولوبوي.
په داسې حال کې چې امریکا افغان دولت سره ستراتېژیک او امنیتي تړون درلود، په یوازې سر یې خپل پوځي ځواکونه افغان حکومت سره له کډ پلان پرته وویستل. لویدیځو هېوادو خپل ډیپلوماتیک حضور په کابل کې پیکه کړ. د مرکزي حکومت نسکورېدا لپاه یې لومړي ۶ میاشتې او بیا درې میاشتې ضرب الاجل وټاکه.
د مرکزي حکومت په وړاندې د لوېدیځو رسنیو لکه BBC ، امریکا غږ، ازادۍ راډیو او نورو سربېره، پاکستاني رسیو هم نوي غوغا پورته کړه. په کور دننه هم د جهادي مافیا رسنیو دغه سیمه یزو او لوېدیځو رسنیو سره غږ ورګډ کړ او د نظام نسکورېدو لپاره یې د ورځو او شپو شمېرل، پیل کړل.
پوځي اقدامات، رسنیزه غوغا او ډیپلوماتیک تحرکات ټول سره یوه خوله شول او د کوتا حتمي توب یې قطعي کړ. داچې کودتا د اګست په ۱۵ مه وشوه یا په ۱۶ مه او یا به یوه اوونۍ وروسته یا مخکې شوې وای، دا بیا دومره زیات ارزښت نه لري.
د کودتاچیانو او د نظام د فعالو ساتونکو ځواکونو انډول، د ملت د ملاتړ ځرنګوالی او کچه او په دولت کې د هېوادپالو د اشتباګانو مثلث کې دوه لومړي فکتورونه پر دریم فکتور لومړیتوب لري او د کودتا حتمي توب ډادمنوي.
نن چې همدغه یادې زیرمې د اګست ۱۵ مه او په تېره بیا له هېواده د ولسمشر غني وتل ډېر ډېر یادوي او ځلوي، غواړي د کودتاچیانو مخونه پر ماسکونو پټ کړي. له هېواده د ولسمشرغني د وتون تر نوم لاندې غواړي خپله هغه جفا او خیانت پټ کړي چې په کودتا سره یې د افغان ملت په وړاندې ترسره کړ. کودتاچیانو د افغانانو د شل کلونو هلې ځلې په اوبو لاهو کړې. پر ولسمشر غني هم د پیسو تور له دې کبله لګېږي چې د جهادي او امریکایي مافیا ګډ مالي فساد او ترسره شوي جنایتونه پټ پاتې شي.
د ولسمشر غني په مشرۍ مرکزي حکومت چې د بن کنفرانس پر پایلې د موقت حکومت او وروسته د څلورو انتخابي حکومتونو لړۍ وه، د هېوادپالو افغانانو او د نړیوالې ټولنې د خواخوږو ځواکونو د ګډ زیار ثمره وه. دا لړۍ چې شل کلونه یې دوام وکړ، ښېګڼې او بریاوې یې د همدغه هېوادپالو افغانانو او نړیوالو خواخوږو پورې اړه لري؛ بدګڼې، نیمګړتیا او ناکامۍ یې د شرګډو کورنیو او بهرنیو کړیو او ځواکونو پر غاړه دي!
په حیقیت کې د دغه شلګنو حکومتونو ښېګڼو او بریاوو او د هغو پلویانو ماته نه ده خوړلې، بلکې کورني او بهرني شرګدي ځواکونه دي چې په دې تاریخي کشمکش کې د ورانۍ او ویجاړۍ په برخه ویاړي او د دې کشمکش په راتلونکي پړاو کې به یې ولسونو ته مخ بربنډ او تاریخي ماتې سره مخ شي. په دې کشکش کې طبیعي ده چې حلوا نه ویشل کېږي او د دواړ لورو تګلارې او هلې ځلې به وروستۍ برۍ ټاکي.
ولسمشر غني په دې تاریخي کشمکش کې نن هم د افغان ملت برحال انتخابي ولسمشر دی، هغه استعفی نه ده کړې او د هېوادپالو افغانانو له ملاتړ برخمن دی.
کودتاچیان او د دوی کورني او بهرني ملاتړي تر ننه په دې نه دي بریالي شوي چې کورني او بهرني مشروعیت ترلاسه کړي.
د یو وړاندیز پتوګه به ښه دا وي چې افغانان پر یوه لویه جرګه راغونډ شي او په جرګه کې د ملت ټولې خواوې استازولې ولري. د نظام مات شوی مشروعیت له دې لارې بیرته حاصل شي او د هېواد راتلونکي له دې لارې تضمین شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ